

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

ګڼه: ۴۷ | مسلسل نمبر: ۸۹
دوشنبه، د رمضان المبارک ۱۰مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال


## د مالګې پالیسۍ او معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسودو ته د تایید نظر ورکړل شو



۲ صفحه

## په بلخ ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه



۲ مه صفحه

## د اوبو نړیوال کنفرانس: موخې، ګټې او د اسلامي امارت فعالیتونه




۴مه صفحه



# سرلیکنه

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د مسوولینو په وینا د ۱۴۰۳ کال په ۱۱ میاشتو کې د څه باندې ۱۴ میلیونو ډالرو په ارزښت له زر ټنه زیات جلغوزي نورو هېوادونو ته صادر شوي دي. دغه جلغوزي چین، پاکستان، متحده عربي اماراتو، امریکا، اردن، اتریش، ایټالیا، انګلستان او فرانسې ته صادر شوي دي. صادرات چې د سوداګرۍ برخه ده د ګټې ترلاسه کولو په موخه تر سره کېږي او له مخې یې د توکو او خدمتونو وړاندې کوونکي ګټه تر لاسه کوي. که د کورنۍ سوداګرۍ پر ځای نړیوالې سوداګرۍ ته پام واړوو؛ نو ټول هېوادونه هڅه کوي چې د اقتصادي ځان بسیاینې ترڅنګ خپل توکي او خدمتونه نورې نړۍ ته هم ولېږدوي او د کورنۍ مارکېټ تر څنګ د نورو هېوادونو مارکېټونه هم خپل کړي. په ټوله کې صادرات د یو هېواد په اقتصادي پرمختګ کې مهمه ونډه لري. اسلامي امارت د صادراتو کچې لوړېدو په برخه کې ګامونه پورته کړي دي او پر دې توانېدلی دی، چې د هر کال په تېرېدو سره د صادراتو کچه لوړه کړي. د افغانستان وچه میوه په نړیوالو بازارونو کې زیات شهرت لري. په وچو میوو کې یوه هم جلغوزي دي. دغه میوه چې په نړیواله کچه زیات شهرت لري، ارزښت یې لوړ دی. د اسلامي امارت په راتګ سره د ۱۴۰۱ لمریز کال د تلې میاشتې په اوومه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لورې په کابل نړیوال هوایي ډګر کې د هوایي دهلېز له لارې چین هېواد ته د جلغوزیو د صادراتو پرانیسته وشوه. محترم حاجي ملا صاحب په دې تړاو جوړو شویو مراسمو کې ووېل، چې هوایي دهلېزونه د نړۍ بازارونو ته د افغانستان د تولیداتو په رسولو کې خورا حیاتي ارزښت لري. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه؛ اسلامي امارت هڅه کوي چې د افغانستان هوایي دهلیزونو ته پراختیا ورکړي او افغاني محصولات د افغانستان په نوم او نښان نورو هېوادونو ته صادر کړي. جلغوزي یو ډېر ارزښتناک محصول دی، چې په نړۍ‌والو بازارونو کې ډېر پېرودونکي لري. هر څومره چې د دې محصول پر صادراتو تمرکز وشي، نو د ملي عوایدو په کچه کې به زیاتوالی راشي او ترڅنګ به یې زموږ سوداګري پراخه شي. خو خبره دا ده چې که د میوو د بسته‌بندۍ او پروسس په برخه کې پانګونه راجلب شي، کولای شو د افغانستان ځای په نړۍ‌والو بازارونو کې لا پیاوړی کړو. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبکستان ته د خپل سفر په ترځ کې د ازبکستان د لومړي وزیر له مرستیال سره په کتنه کې د سوداګریزو اړیکو پر پراختیا خبرې وکړې. ازبکستاني لوري ووېل، تاشکند چمتو دی چې له کابل سره د سوداګریزو اړیکو د پراخولو په موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ په سرحد کې ګډ سوداګریز زون رامنځته کړي. په دغه زون کې به د جلغوزیو او پنبې د پروسس فابریکې، د بسته‌بندۍ او لوجستیک مرکزونه او د خوراکي توکو د تولید یو شمېر کارخونې جوړې کړي. نو اسلامي امارت هڅه کوي چې خپل صادرات په معیار برابر نړیوالو بازارونو ته وړاندې او له دې لارې د سوداګرۍ په پراختیا سره اقتصادي وده چټکه کړي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اوونیزه آبادي
هفته‌نامه آبادی

# د مالګې پالیسۍ او معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسودو ته د تایید نظر ورکړل شو

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په ۱۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم د مالګې پالیسۍ مسوده، د معدني موادو د پروسس او صادراتو د پالیسۍ مسوده او د هلمند ولایت په ښوراب ملکي هوايي ډګر کې د شته سړې خونې د فعالولو موضوعات د بحث لپاره وړاندې شول.

په غونډه کې له هراړخیز بحث وروسته د مالګې پالیسۍ او د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسودو ته د تایید نظر ورکړل شو او اړوندو وزارتونو ته سپارښتنه وشوه، څو د یادو پالیسیو په مسودو کې د اوبو او انرژۍ وزارت نظر ځای پر ځای او د نهايي تصمیم نیونې په موخه یې اقتصادي کمېسیون ته راجع کړي. د هلمند ولایت په ښوراب ملکي هوايي ډګر کې د شته سړې خونې د فعالولو په اړه پرېکړه وشوه چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت د یادې سړې خونې د فعالولو لپاره ور شرکت انتخاب او قرارداد یې د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.



# په بلخ ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په ۱۴مه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته په بلخ ولایت کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت پر ځمکه د خصوصي سکتور له لوري د سوداګریز مارکېټ جوړولو او همدا راز د مایع ګاز صنعت طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.

په غونډه کې له هراړخیز بحث وروسته په بلخ ولایت کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه او د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه.



همدارنګه د مایع ګاز د صنعت په اړه د ایراني پانګوالو له لوري د وړاندې شوې طرحې په اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د یادې طرحې په اړه له وړاندې کوونکي شرکت سره تخنیکي بحثونه ترسره او خپل راپور د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته په ټاکلې نېټه وړاندې کړي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه آبادي
هفته‌نامه آبادی


# اخبار اقتصادی هفته

## صادرات ۲۹۶ هزار تن میوه تازه افغانستان به ارزش ۱۴۳ میلیون دالر

وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که در ۱۱ ماه گذشته، حدود ۲۹۶ هزار تن میوه تازه به ارزش بیش از ۱۴۳ میلیون دالر به کشورهای گوناگون صادر شده است. پاکستان، هند، امارات متحده عربی، چین، انگلستان، هالند، امریکا، فرانسه، استرالیا، عراق، عربستان سعودی و کانادا از جمله بزرگ‌ترین خریداران میوه تازه افغانستان در سال جاری بوده‌اند. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن گوی وزارت صنعت و تجارت، در این مورد گفت: «مجموع صادرات میوه تازه افغانستان در سال جاری به حدود ۲۹۶ هزار تن و به ارزش ۱۴۳ میلیون و ۱۱۰ هزار دالر رسیده است. این صادرات شامل سیب، انگور، انار، انجیر تازه، زردآلو، گیلاس، توت، خربوزه، شاتوت و سایر میوه‌ها می شود.» در همین حال، اتاق زراعت و مالداری بر نیاز به حمایت بیش‌تر از دهاقین و میکانیزه کردن بخش زراعت برای افزایش صادرات کشور تاکید می‌کند.

## تأکید سرپرست وزارت زراعت بر استفاده مؤثر از زمین‌های اطراف کانال قوش‌تیپه

عطاءالله عمری سرپرست وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در نشستی بر کارگیری مؤثر زمین‌های اطراف کانال قوش‌تیپه تاکید ورزیده است. عمری در این نشست که به منظور ارایه طرح استفاده معقول از زمین های اطراف کانال قوش‌تیپه برگزار شده بود، گفته است که پس از تکمیل کار ساخت وساز کانال قوش‌تیپه، در اطراف این کانال باید کمپلکس های منظم صنعتی، زراعتی و مالداری ایجاد شود. مصباح‌الدین مستعین سخن‌گوی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در این باره گفت: «در این نشست عطاءالله عمری سرپرست وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، درباره اهمیت پروژه کانال قوش‌تیپه و آماده سازی طرح این پروژه صحبت کرد. او گفت که باید زمین‌های اطراف این کانال باید به شکل مؤثر استفاده شود.» برخی از آگاهان، پروژه کانال قوش تیپه را در توسعه و میکانیزه سازی زراعت و هم‌چنان رشد اقتصاد افغانستان بسیار مهم می‌دانند. وزارت‌های زراعت آبیاری و مالداری، مالیه، انرژی و آب و شهرسازی و مسکن و برخی نهادهای دیگر در بخش تثبیت زمین‌ها و آغاز ایجاد کمپلکس های زراعتی و صنعتی در اطراف کانال قوش‌تیپه به‌گونه‌ی مشترک کار می کنند.



## صادرات ۱۱ صد تُن جلغوزه افغانستان در یازده ماه

وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که در یازده ماه نخست سال جاری خورشیدی، بیش از ۱۱۰۰ تن جلغوزه سیاه افغانستان به کشورهای گوناگون صادر شده است. به گفته‌ی این وزارت، ارزش این مقدار جلغوزه بیش از ۱۴ میلیون دالر بوده و عمده‌ترین مقاصد صادراتی آن چین، پاکستان، امارات متحده عربی، امریکا، اردن، اتریش، ایتالیا، انگلستان، فرانسه، آلمان، استرالیا و ترکیه بوده‌اند. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن‌گوی وزارت صنعت و تجارت در این باره گفت: «در جریان ۱۱ ماه سال ۱۴۰۳، حدود ۱۱۰۰ تن جلغوزه به ارزش بیش از ۱۴ میلیون دالر به کشورهای مختلف صادر شده است.» برخی کارشناسان اقتصادی معتقدند که تلاش ها برای بازاریابی جهانی این محصول می‌تواند درآمد قابل توجهی برای افغانستان ایجاد کند.

## د بغلان د بورې فابریکه بیا فعاله او تولید یې پیل کړی

د بغلان ولایت ځایي مسوولینو خبر ورکړی چې په دغه ولایت کې د بورې فابریکه، چې له اوږدې مودې راهیسې بنده وه، تر بیا رغونې وروسته بیا فعاله او د تولید بهیر یې رسما پیل شوی دی. د بغلان والي د فابریکې د بیا پرانیستې په مراسمو کې ویلي چې دا فابریکه د هیواد یوه ملي سرمایه ده او د فعالیت له بیا پیل سره به نه یوازې ځوانانو ته د کار زمینه برابرېږي، بلکې د هیواد اقتصاد ته هم وده ورکوي. د یادې فابریکې مسوولین بیا وایي د بورې دغه فابریکه کولی شي په ۲۴ ساعتونو کې له ۷۰۰ تر ۸۰۰ ټنه بوره تولید کړي. د مسوولینو په خبره په دې کارخونه کې دا مهال ۶۰ کسان په مستقیم ډول او ۳۰۰ تنه په غیر مستقیم ډول په کار بوخت دي.




# د اوبو نړیوال کنفرانس:
## موخې، ګټې او د اسلامي امارت فعالیتونه

زاهد

**لنډیز:**

اوبه د بشري ټولنې د بقا له پاره ډېرې مهمې دي. اوبه د بشري ټولنې په کرنیز او صنعتي پرمختګ کې مهم رول لوبوي. نن ورځ د اوبو مدیریت او د اوبو امنیت نړیوالې موضوعګانې دي او د یو لړ ستونزو له امله یې د ګنو هېوادونو توجه جلب کړې ده.

د کابل پولي تخنیک پوهنتون له لوري د اوبو د مدیریت، له اوبو څخه د سالمې استفادې، د اوبو اړوند ننګونو او نورو موضوعاتو په اړه د اوبو نړیوال کنفرانس جوړ شوی و چې کورنیو او بهرنیو څېړونکو او متخصصینو په کې خپلې مقالې شریکې کړې. په کنفرانس کې د افغانستان اسلامي امارت لوړ پوړو مسوولینو هم ګډون کړی وو او د اوبو د مدیریت او له اوبو څخه د سالمې استفادې په اړه یې خپل نظرونه شریک کړل.

په دې مقاله کې په لنډ ډول د کابل پولي تخنیک پوهنتون له لوري د اوبو نړیوال کنفرانس په موخو، ګټو، د ځینو ویناوالو خبرې او د اوبو د مدیریت په برخه کې د اسلامي امارت هڅو ته کتنه شوې ده.

**د اوبو نړیوال کنفرانس موخې:**

د لوړو زده کړو وزارت په رهبرۍ د کابل پولي تخنیک پوهنتون له لوري د اوبو نړیوال کنفرانس د ۱۴۰۳ کال د کب میاشتې په شپږمه نېټه پیل او په نهمه نېټه پای ته ورسېد. یاد کنفرانس ته چې له تېر شاوخوا یو کال راهیسې چمتووالی روان و، په ښه شکل پای ته ورسېد. دغه کنفرانس په کابل کې د لویې جرګې په تالار کې جوړ شوی و چې د اسلامي امارت لوړ پوړو مسوولینو هم په کې ویناوې وکړې.

په دغه کنفرانس کې د هېواد له بېلابېلو امارتي او خصوصي پوهنتونونو څخه لسګونو څېړونکو او د اوبو برخې متخصصینو خپلې مقالې وړاندې کړې. دغه راز، د انګلستان، ترکیې، روسیې، امریکا، سریلانکا، چک او نورو هېوادونو ګڼو څېړونکو او د اوبو برخې متخصصینو ګډون کړی وو. په دغه درې ورځني کنفرانس کې د اوبو اړوند بېلابېلو موضوعاتو په اړه ټولې ۱۳۵ مقالې وړاندې شوې چې ۳۵ یې د بهرنیو څېړونکو او متخصصینو له لوري په انلاین او حضوري ډول ګډونوالو ته وړاندې شوې.

د کورنیو او بهرنیو څېړونکو او متخصصینو له لوري په افغانستان کې د اوبو اړوند شته ستونزو، ننګونو او خطرونو ته د رسېدنې په برخه کې د سیمې او نړۍ همکارۍ راجلبول، د علمي څېړنو، طرحو او پالیسیو جوړول او د عملي کولو په پار یې له سکتوري ادارو سره شریکول د کنفرانس مهمې موخې وې. د دې تر څنګ، د متخصصینو، څېړونکو، پالیسي جوړوونکو له پاره د داسې یو پلټفارم جوړول چې هغوی په کې خپله پوهه، د څېړنو پایلې او د اوبو د مسلو په اړه خپل نظریات شریک کړي.

د پولي تخنیک پوهنتون له لوري د مقالو د لنډیز په خپاره شوي کتاب کې د کنفرانس بله مهمه موخه د حکومتي مسوولینو، غېر حکومتي ادارو، پوهانو، د صنعت برخې متخصصینو او د ټولنې د رهبرانو تر منځ د اړیکې جوړول او همکارۍ رامنځته کول و. ظرفیت لوړونه، عامه پوهاوی، نړیواله همکاري او د څېړنې پرمختګ د کنفرانس ځینې نورې موخې ښودل شوې وې.

**د کنفرانس ګټې :**

د اوبو نړیوال کنفرانس کې څېړونکو او متخصصینو د اسلام له نظره د اوبو ساتنې او ارزښت، د اوبو د مدیریت او ننګونو، چاپېریال ککړتیا، اقلیمي بدلون، د اوبو رسونې شبکو جوړولو او ګڼو نورو موضوعاتو او ستونزو په اړه خپلې مقالې او نظریات وړاندې کړل. تر ځمکې لاندې اوبو کچې کمښت، اقلیمي بدلون او یو شمېر نورو ستونزو په افغانستان کې کرنه اغېزمنه کړې او هېوادوال یې په ځینو سیمو کې کډوالۍ ته اړ کړي دي. په کنفرانس کې څېړونکو او متخصصینو د پورته یادو شویو موضوعاتو او ستونزو په اړه خپل علمي نظریات او طرحې شریکې کړې.

د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر شیخ الحدیث نداء محمد ندیم په وینا، په کنفرانس کې وړاندې شوې نظریات او طرحې به د اسلامي امارت له سکتوري ادارو سره شریکې کړي. دا ډېره مهمه ده چې د اسلامي امارت اړوند مسوولین د اوبو نړیوال کنفرانس کې وړاندې شویو نظریاتو او طرحو ته په خپلو پالیسیو او راتلونکو پلانونو کې ځای ورکړي. په دې سره به په افغانستان کې د اوبو مدیریت، کرنې او اقلیمي بدلون برخه کې شته ستونزې حل شي.

په کنفرانس کې له ګنو هېوادونو څخه د پوهنتونونو استادان راغلي وو چې د افغانستان او بهرنیو هېوادونو د پوهنتونونو د استادانو تر منځ د اړیکو جوړولو او نظریاتو

شریکولو یو ښه فرصت و. دغه راز، یاد کنفرانس د نړیوالې همکارۍ او همغږۍ د زیاتولو او پراخولو له پاره هم ښه زمینه برابره کړه.

## د اسلامي امارت د لوړ پوړو مسوولینو ګډون:

په کنفرانس کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د لوړو زده کړو سرپرست وزیر، د کلیو د بیارغونې او پراختیا سرپرست وزیر او د یو شمېر وزارتونو مرستیالانو ګډون کړی وو.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپله وینا کې وویل، اسلام موږ ته له اوبو سره د سم چلند سپارښتنه کوي او له نړۍ سره د سیالۍ، اقتصادي ودې او د راتلونکو نسلونو د حقونو د خوندي کولو له پاره د اوبو مسلکي مدیریت مهم او ملي مکلفیت دی. محترم ملا صاحب وویل، په افغانستان کې د بېلابېلو عواملو له امله له اوبو سره مسلکي او ملي چلند نه دی شوی او د ټولو مسوولیت دی چې له هرې ممکنه لارې او امکاناتو څخه په استفادې د اوبو د مدیریت له پاره اساسي ګامونه واخلو.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ الحدیث نداء محمد ندیم وویل، د لوړو زده کړو وزارت د هېواد د سترو او مهمو مسایلو په تړاو ملي او نړیوال کنفرانسونه جوړ کړي او دا لړۍ به دوام ولري. سرپرست وزیر له استادانو او متخصصینو وغوښتل چې د اوبو ښه مدیریت، وچکالۍ، سیلابونو او اقلیمي بدلونونو له امله راولاړو شویو ستونزو پر وړاندې د مبارزې له پار څېړنې وکړي او د عملي کولو په موخه یې له اړوندو ادارو سره شریکې کړي.

د کلیو د بیارغونې او پراختیا سرپرست وزیر مولوي محمد یونس اخوندزاده په خپلو خبرو کې د اوبو نړیوال کنفرانس خورا مهم وباله او ویې ویل چې د اوبو مدیریت د اسلامي امارت له اساسي موخو څخه دی.

د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو مرستیال مجیب الرحمن



اخوندزاده وویل، اسلامي امارت د اوبو مدیریت ته ډېر کار او پاملرنه کړې. هغه د سیمې او نړۍ له هېوادونو څخه وغوښتل چې اوبه سیاسي نه کړي، ځکه دا یوه بشري موضوع ده او د ژوند بقا تضمینوي.

## د اوبو مدیریت له پاره د اسلامي امارت هڅې:

اسلامي امارت د هېواد د اوبو د مدیریت له پاره ډېرې هڅې کړې دي. د اوبو او برېښنا بندونو جوړول، کانالونو ایستلو او چکډیمونو په جوړولو سره یې د هېواد ډېرې اوبو مدیریت کړې دي. سږ کال په کابل کې د شاه او عروس او په زابل کې عمري بندونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول. د دې تر څنګ د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د بندونو د رغونې چارې روانې دي. د قوش تېپې ملي کانال او لغمان شاهي کانال چارې هم روانې دي او د هېواد په ډېرو ولسوالیو کې د واورو او باران اوبو د کنټرول له پاره چکډیمونه جوړ شوي دي او یو شمېر یې تر کار لاندې دي.

## پایله:

د اوبو نړیوال کنفرانس چې د کابل پولي تخنیک پوهنتون کې جوړ شوی و، د کورنیو او بهرنیو څېړونکو او متخصصینو له لوري په کې د بېلابېلو موضوعاتو په تړاو لسګونه مقالې وړاندې شوې. کنفرانس د اوبو په برخه کې د شته ستونزو په اړه جوړ شوی و چې د اسلامي امارت لوړ پوړو مشرانو په کې ویناوې وکړې.

کنفرانس کې د وړاندې شویو نظریاتو او طرحو په اړه ژمنه وشوه چې هغه به د اسلامي امارت اړوند سکټوري ادارو سره شریک شي. په کار ده چې د اوبو د مدیریت او نورو موضوعاتو اړوند وړاندې شویو سالمو نظریاتو او طرحو ته د اسلامي امارت په پالیسۍ او راتلونکو پلانونو کې ځای ورکړل شي.

# THE ROLE OF THE HERAT-KHAF RAILWAY IN REGIONAL TRADE



Local authorities in Herat state that the Herat-Khaf railway plays a key role in imports and exports between Afghanistan and regional countries.

Recently, wagons loaded with sugar and cement, originating from Dubai and Iran, have arrived at the Rozanak station in Herat.

According to local officials in Herat, the Herat-Khaf railway has contributed to an increase in the transportation of commercial goods between Afghanistan and neighboring countries.

The spokesperson for the Governor of Herat, Mohammad Yousuf Saeedi, stated that a commercial cargo shipment has arrived at Rozanak station via the Khaf-Herat route. This shipment consists of 26 wagons—20 carrying sugar from the United Arab Emirates and six carrying cement from Iran to Afghanistan.

The transportation of commercial goods between Afghanistan, Iran, and several other regional countries via the Herat-Khaf railway is considered a significant development for the country's trade sector.

Officials from the Herat Chamber of Commerce and Investment report that, in recent months, the volume of imports and exports through this railway has increased.

The Executive Director of the Herat Chamber of Commerce and Investment, Mohammad Yousuf Ameen, commented on the matter, stating: "Fortunately, the trade volume has significantly improved. These shipments include construction materials and transit goods from other countries. We receive imports daily from Dubai, Iran, and India. Trade has accelerated due to the railway connection."

The increase in exports and imports via the Herat-Khaf railway is regarded as an important factor in the country's economic growth.

Economic experts emphasize that this railway connects Afghanistan to key international markets.

Economic analyst Gulabuddin Miri stated: "This development fosters economic growth, strengthens ties with other countries, attracts investment, and directs public attention to economic infrastructure."

The Herat-Khaf railway connects Afghanistan to Turkey and European markets via Iran.

This railway extends to the Herat Industrial City, with its final construction phase currently underway.

# د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۷۱,۴۰ | ؋۷۱,۴۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۴۵ | ؋۲۴۵ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,۲۹ | ؋۱,۲۹ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۷۷,۳۷ | ؋۷۷,۴۳ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۰ | ؋۰,۸۰ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۱۹ | ؋۸۲۰ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ؋۹۲,۱۳ | ؋۹۲,۲۰ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۹,۰۳ | ؋۱۹,۰۴ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۴۴ | ؋۱۹,۴۵ |
| ۱ | چیني ین | ؋۱۰,۳۷ | ؋۱۰,۳۸ |

